د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد

د موضوعي څېړونو لړۍ

# په هلمند او ننګرهار کې د بدلون تر مهاله د مخدره توکو د کنټرول او سلا کېدو هیلې او ناڅرګند راتلونکی



ډيويډ منسفيلډ

مرغومی ۱۳۹۲

European Union

۱۲ کاله
باکیفیته څېړنه

څېړنې د بنه
افغانستان
لپاره
AREU

ژباړن: ایمل پسرلی

طرح او دیزاین: احمد سیر علمیار

د خپرونی کد: ۱۳۰۲P

© ۱۳۹۲د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد. ټينې حقونه خوندي دي. دا خپرونه بنايي بيا ځلي توليد ، آرشيف او د غير اقتصادي موخو لپاره ولېږل شي، چې په دې صورت کې يې د ليکلو اعتبار په ليکوال پورې اړه لري. که دا خپرونه بيا ځلي توليد ، ذخيره يا د وېبپاڼې له لارې خپرېږي، د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد وېبپاڼه www.areu.org.af بايد ورسره وي. د موادو د کاپي کولو لپآره بايد د خپرندويه مرکز ليکلي اجازه واخيستل شي. په لاندې برېښنا ليک او ټلېفون ليکلي اجازه ترلاسه کولی شي.

# د لیکوال په اړه

دیوید منسفیلډ خپلواک سلاکار دی چې له تیرو ۱۷ پرله پسې کرهنیزو فصلونو یې د افغانستان په کلیوال ژوند کې د کوکنارو د کر پر اهمیت څېړنې کړې دي. دم ګړی دی په ټفیټس پوهنتون کې د فینستین نړیوال مرکز موقتي همکار دی.

# مننې

دا څېړنه د دوامداره څېړنې او پرمختیا د ټولنې(Sustainable Research and Development) د همکارانو له سخت زیاره پرته ناممکنه وه دوی په پرله پسې توګه په خورا سختو شرایطو کې څېړنو ته دوام ورکړ. په کابل کې د دې ټیم او په سیمو کې یې د همکارانو ژمنتیا د ستاینې وړ ده. د دوی دا لېوالتیا چې د افغانستان په کلیوالو سیمو کې پرله پسې له یوه داسې ملګري او همکار سره چې ډېر معلومات نه لري، څېړنه وکړي او د کار له بشپړېدا وروسته د نورو پوښتنو ځواب ته هم نه ونه وايي، د لا ډیرې ستاینې ړو دي.

د الیس شرکت په تېره د ریچارډ بریتون،ټیم بکلي، مات انجل او دلیپ واګ د ټیم تخنیکي او معلوماتي ملاتړ له پامه نه شي غورځېدای. کومې نقشې او تخنیکي او معلوماتي تولید چې دوی وړاندې کړ نه یوازې د څېړنې موندنو ته تصویر ورکړ بلکې د شنونکي کار بنسټیزه برخه هم ده چې د څېړنې د ځایونو مناسب ځایونه یې په نخښه کړل او پر مځکه یې د ټولو شویو معلوماتو پایلې پسې وشنلې. په داسې حال کې چې له لیرې د اټکل او پر مځکه د سروې له لارې ترلاسه شوې ډېټا د افغانستان په کلیوالو سیمو کې د اوسني پرمختګ په باب مهم معلومات ورکوي، د ټولې څېړنې پر وخت د دواړو بڼو یوځای کولو لا ډیر معلومات وموندل چې ولې دغه چارې ترسره کېږي.

د محترمو همکارانو له یوې ډلې هم نورې مننې چې د دې رپوټ په یوه لومړني متن یې تبصرې کړې وې. د دوی سلطان محمد احمدي ،راس بایلی، ریچارډ بریتون، راری براون،ویلیام بیرد، پییر آرناود چووی، پاول فیشستین، آنتونی فیتزیرت، جوناتن ګودهاند، مایک مارتین، دیپالی موکوپادیا او غلام رسول دي. کوم وخت چې دوی دې کار ته ورکړی او د دوی نظر ډیر ستایم د دوی له مهمو لارښوونو پرته به دا څېړنه بشپړه نه وای. ان بوکس باوم نه هم د هغې د زغم او مهارت له امله مننه چې د رپوټ له ترلاسه کولو وروسته یې ایډیټ کړ او لوستل یې اسانه کړل. یادونه به یې بې ځایه نه وي چې که په رپوټ کې تېروتنې پاتې وي نو خپله د لیکوال دي.

په پای کې د اروپایي ټولنې له کمیسیون او د برتانیا د بهرنیو چارو له وزارته مننه کوم چې د افغانستان د کلیوال ژوند په ستراتیژۍ کې یې د کوکنارو پر ونډې د دې اوږده تحلیلي کار پرله پسې ملاتړ کړی دی. د دوی له مالي ملاتړ څخه پرته چې د دې کار لپاره یې کړی دی ډیره به ګرانه وای چې د ټولنیزواقتصادي توپیرونو په باب زموږ پوهه، سیاسي او چاپېریالیز فکتورونه چې د افغانستان په کلیوالو سیمو کې ګڼ واقعیتونه جوړوي او د دې واقعیتونو اغېز د کوکنارو پر کر کیلې باندې څرګند شي. که دغه مرسته نه وای نو موږ به له هغه ډول مثالي ډېټا او اندازو سره پاتې وای چې ډېر ځله د مخدره توکو پر ضد د دقیقې تګلارې خبرې اترې زیانمنوي.

دیوید منسفیلد

دسمبر ۲۰۱۲

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په کابل کې میشته یوه خپلواکه څېړنیزه موسسه ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالي درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څېړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومثبتې اغیزې دي، او همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه ، د څېړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره له خپلو څېړنو او کتابتون څخه د ګټې اخیستنې د ترویج په موخه له پالیسي جوړوونکو ، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کوونکو سره ددوی د څېړنېزې وړتیا د پیاوړي کولو په موخه ښکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو ، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې بنسټ (AREU ) په ۲۰۰۲ کال کې په افغانستان کې د نړیوالې مرستندویې ټولنې په همکارۍ جوړ شو. دغه بنسټ د مشرتابه یو بورد لري چې د مرستندویو ادارو ، لکه: ملګرو ملتونو او نورو ګڼ اړخیزو ادارو او نادولتي ټولنو استازي پکې ګډون لري. AREU او سمهال د خپلو مرستو ډېره برخه د فیلنینډ له سفارته، د سویډن د بهرنۍ پرمختیا د مرستندویه ادارې (SIDA ) او د پرمختیا او همکارۍ لپاره د سویس له ادارې (SDC ) څخه تر لاسه کوي.

په ۲۰۱۴ کال کې د دغه بنسټ د ځانګړو پروژو ملاتړ د اروپایي کمېسیون (EC ) ، د پرمختیا او همکارۍ لپاره د سوېس ادارې (SDC ) ، د نړیوال پرمختګ انسټیټیوټ (ODI ) ، د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې (UNDP ) ، نړیوال بانک ، د منځنۍ اسیا پوهنتون (UCA ) ، د امریکا د سولې انسټیټیوټ (USIP ) ، د نړیوالې همکارۍ لپاره الماني ټولنې (GmbH ) ،(GIZ ) او د فیلینډ د سفارت لخوا تر سره کېږي.

**دغه څیرنه د اروپایی اتحادیې په مالی مرسته جوړشوی دی. رپوټ متن یوازی د افغانستان د څیړنی او ارزونې د واحد (AREU) مسئوولیت دی او په هیڅ توګه د اروپا د اتحادیي د موقف څرګندوی نه ګڼل کیږی.**

## خلاصه

د ناقانونه مخدره توکو د تولید مسله په افغانستان کې د تګلارو له اجندا څخه تر ډېره لوېدلې ده. سربېره پر دې چې د افغانستان بهرني ملګري تر ډېره د وتلو پر تګلارې غور کوي، لامل دا هم دی چې تر ډېره لنډمهالو مسایلو ته پام کېږي او د مخدره توکو پر موضوع عموماً همدا ډول قضاوت کېږي. د کوکنارو کرکیله په ۲۰۰۷ کال کې د خپل اوج له وخته چې ۱۹۷،۰۰۰ هکتاره مځکه باندې کرل شوي وو په ۲۰۱۰ کال کې ۱۲۳،۰۰۰ هکتاره ته راکښته شوه. د هغو ولایتونو شمېر مخ په زیاتېدو ده چې کوکنار په کې لږ کرل شوي او له «کوکنارو» پاکې سیمې بلل شوې دي. ان په ۲۰۱۱ کال کې په ۱۳۱،۰۰۰ هکتارومځکې باندې د کوکنارو کر چې یو څه تر وړم کال زیات و تر ډېره پام ځان ته وانه ړاوه او په دې هم چا سر ونه ګراوه چې په کاپیسا، بغلان او فاریاب کې چې کلونه کلونه «له کوکنارو پاک» بلل شوي وو بیا په کې کوکنار وکرل شول.

ان د ۲۰۱۲ کال شمېرې د قناعت وړ دي او د کرکیلې په سیمو کې د اټکلآ ۱۸٪ زیاتوالی هم په دې «منلی شو» چې د ۲۰۱۱-۲۰۱۲ کال ترمنځ د اپیمو تولید ۳۲ فیصده کم شو، که څه هم دلیل یې د ۲۰۱۲ کال په مارچ کې سخته یخني وه. داسې ښکاري چې د نړیوالو امنیتي مرستندویو ځواکونو (ایساف) د بدلون پلانونو، د انتخاباتو د بهیر په اړه اندېښنو او د جګړې مخ په ډېرېدونکې اغېزې چې د ملکي وګړو او د لویدیځو سرتیرو د وژنې شمېر په کې ډېر شوی، دې ټولو ته په پام سره د کوکنارو د لږ زیاتېدو موضوع به لوېدېځو سیاستوالو او سیاسي تګلارو جوړونکو ته سملاسي د ډېرې اندېښنې وړ نه وي.

د هلمند او ننګرهار په ولایتونو کې ژورو ساحوي څېړنو ته په پام سره دا رپوټ څرګندوي چې له بده مرغه دغه بې غوري کاملاً پر ځای نه ده. په ساده ډول دا رپوټ ښیي چې په ۲۰۱۱-۱۲ کال کې په دواړو هلمند او ننګرهار کې د کوکنارو کرکیله ډېره شوې ده او داسې شکونه یې زیات کړي چې د افغانستان د مخدره توکو د کنټرول په برخه کې دې دغه دواړه ولایتونه په اوږد مهال کې اغېزمنه بېلګه وګرځي. لا ډېره د اندېښنې وړ خبره د دې کرکیلې د ډېرېدو تر شا دا ده چې بېلا بېل ټولنیز اقتصادي او سیاسي بهیرونه زېږوي، او دا چې د بدلون تر وخته او تر هغه وروسته وخت کې چې د ۲۰۱۴ کال په دسمبر کې لویدیځ جنګي ځواکونه عملیات بس کړي، دا به د اپیمو تولید او ثبات ته څه مانا ولري.

رپوټ په دې وروستیو کې افغانستان کې د کوکنارو د کرکیلې د کمېدو ضعف ښیي. وروسته په هلمند او ننګرهار کې د ۲۰۱۱-۱۲ کال په ترڅ کې د کوکنارو د زیاتېدو عوامل د بېلا بېلو دلایلو له امله د شننې له لارې څېړي او دا معلومات وړاندې کوي چې له بدلون وروسته به په افغانستان کې سیاسي اقتصاد ته د ناقانونه مخدره توکو سوداګرې څومره مهمه وي. په ځانګړې توګه دا رپوټ ښیي چې د کوکنارو کرکیله د هلمند او ننګرهار په ولایتونو کې څومره له ټولنیز اقتصادي او سیاسي جوړښت سره نژدې ښکېل ده. دا حالت هغه ستونزې په ګوته کوي چې والیانو ته څومره ګرانه ده چې له کلیوالو مخورو سره په هغو سیمو کې د کوکنارو د کرکیلې کمولو کی چنې ووهي چې د کلیوالو ژوند په کې مخ په خربیدو دی او حکومت په کې د تاوتریخوالې د کمولو لپاره ډېر څه نه لري. دا رپوټ ښیي چې له همدې شرایطو سره پر کوکنارو د اوسنۍ اداري د بندیز هیلې خبره «لا برلاسۍ او واکمنۍ» ته راکښلې او په هغو سیمو کې حضور ته تړې ده چې پخوا یې ډېر په کې مخامخ شته والی نه درلود او د دولت او کلیوالو مخورو ترمنځ اړیکي تل په نازک حالت کې وې او په پخوا وختونو کې چې پر دغو خلکو د مرکزي واک هڅه شوې خبره یې له تاوتریخوالي ډک غبرګون ته رسېدلې ده.

بالاخره رپوټ دوه جلا لارې ښیي چې د دواړو ولایتونو بېلا بېل خلک په کې ښکېل دي. یوه لاره په هغو خلکو پورې ده چې افغان دولت پر کلیوال نفوس تل کنټرول لرلی دی او د کلیوالو مخورو له لارې یې دا کنټرول عملي کړی او د دغو مخورو ګټې تر ډېره د دولت له واک سره تړلی دی. په دغو سیمو کې د مرستو سرچینې او د بازار موقع دا اجازه ورکوي چې د اپیمو له تولیده دوامداره مخ واړول شي او په دغو سیمو کې دولت او پر کوکنارو یې بندیز کار ورکولی شي.

دویمه لار کاملا بې له لار ده. دا په هغه ولس پورې تړاو لري چې د دولتي مداخلې په وړاندې یې تل وسله وال مقاومت کړی دی، یو خپلواک قبایلي سیستم او دننه سره وېشلی، له سیالۍ ډک او بې ثباته کلیوال مخور چې سیاسي مخالفان هم په کې دي چې د خپلو مخالفانو له ناکامۍ ګټه اخیستن غواړي. دا هغه سیمې دي چې د عاید موندلو لارې د خاورې له امله ډېرې محدودې دي، له بازاره لیرې دي او د مرستې موندلو سرچینې یې هم کمې دي. په دغو سیمو کې د اپیمو پر تولید بندیز ولایتي او ځایي سیاسي مشرتابه ته لویې ننګونې پېښې کړي دي ځکه چې دغه بندیز کلیوال بې وزلې کړې او اړ ایستي یې دي چې داسې تګلارې کاپي کړي چې له فزیکي خطر سره یې مخامخوي او د افغان حکومت او د هغوی د بهرنیو ملاتړو په وړاندې یې مخالفت ډېر کړی دی. په همدې برخو کې، د ۲۰۱۴ کال له دسمبر وروسته د بهرني پوځ په نشتوالي کې، که تر هغو وړاندې لا ونه شو، دولت بې له دې چې پر کوکنارو بندیز ختم نه کړي بله لار نبایي ونه لري، دغه راز د هوارو سیمو درو ته ترې راستانه نه شي او له ولس او کلیوالو مخورو سره د تماس او اړیکو نوې لارې ونه مومي نو ځان به ګوښې احساس کړي.

رپوټ د هلمند او ننګرهار د شواهدو په بنسټ ښیي چې د افغان حکومت د واک د غځېدلو پر ځای چې ځینې ګومان کوي همداسې شوي، په لا پراخې سیمې د کوکنارو د کرکیلې د بندیز غځېدل چې ټولنیز اقتصادي او سیاسي شرایط په کې په پام کې نه دي نیول شوي، اصلاً د دولت چارې زیانمنې کړې، د کلیوالو خوابدي یې ډېره کړې او دحکومت مخالفودلو ته یې نوې موقع ورکړې ده. دغه بهیر او له ۲۰۱۴ کال وروسته څخه د کوکنارو د کرکیلې بیا زیاتېدل ښایي د افغان دولت لپاره لویې منفي پایلې ولري او ورسره به لوېدیځو ملتونو ته هم پایلې ولري چې د افغان دولت پرمختیایي مرستې او ملاتړ ته دوام ورکوي.

# پا یله

بارفیلډ[1] هغو ستونزو ته اشاره کوي چې هر افغان مشر د افغنستان پر خاورې د کنټرول موندلو په برخه کې ګالللي دي:

> هغو افغان مشرانو چې په ( شلمه پیړۍ ) کې تر ټولو ډیر بریالي شوي د پردې تر شا د پاتې کیدو او کار پر مخ بېولو تګلاره غوره کړې ده. دوی خپل حکومتونه پیاړوي یاد کړي خو ډېر لږ یې لانجمنې تګلارې عملي کړي چې خپله دعوه پرې وازمويي. هغه مشران چې ډير ناکامۍ ته نژدې او دولت يې نړيدلی چې ګومان يې کاوه له خپلې خوښې سره سم واک چلولی شي او بیا یې د خپل رژیم په وړاندې مخالفت په دې پاړولی چې د هغوی په ځپلو کې هم پاتې راغلي.[2]

بارفیلډ دې حالت ته په افغانستان کې د «سیاسي چاپېریال» نوم ورکوي چې «لیرې پرتې سیمې د مرکز له خوا اداره کیږې چې هر یو یې بیا خپل سیاسي مخور لري»[3] په همدې چاپېریال کې دننه بارفیلډ استدلال کوي هغه چې په مرکز کې واکمن دي که په مرکز کې سیاسي واک ساتل غواړي نو باید خپل هوډ کم کړي چې پر سیمو برلاسي پاتې شي.

همدا خبره په هغو سیمو کې هم سمه ده چې له تاریخي پلوه ولایتي والیانو په کې هغو سیمو ته ډېر واک پرېښی چې خاورې ، د مالي ملاتړ محدودې سرچینې او ټولنیز جوړښت له دولت سره جوړ جاړي ته نه دې پرابېنې.په دغو سیمو کې دولت هڅه کړې چې له لیرې چارې تنظیم کړي. د دې هدف لپاره دولت بیلا بیلو قبایلي ډلو سره په څنګ جوړ شوی چې یو نه یو ډول نظم وساتي او دا خطر کم کړي چې په لیرې پرتو سیمو کې پراته خلک په کښته پرتو درو بریدونه وکړي او بې ثباتي پیدا کړي. په دې څنګ وهلو کې د دولت له لورې د تاوتریخوالي ګوابښ مهم و او چې کلیوالو مخورو ته په کې پیسې هم ومنل شوي او له ډیرو خلکو ته د مراعاتو خبره هم یاده شوه دولت د افغان خاورې ډېره برخه کابو کړه او دا د تاوتریخوالي له لارې هم نه بلکې د قوت او په زیرکۍ د معاملو په معقوله بڼه يې دا کار ترسره کړ.

لکه د ۲۰۱۱-۱۲ کال د کر موسم چې یې ښیي په دې ډول سیمه کې پر اپیمو بندیز بې ثباتي راولي او په دواړو هلمند او ننګرهار ولایتونو کې یې د دولت جوړولو پر وروستیو هڅو سیوری غوړولی دی. د ننګرهار په برنیو ولسوالیو کې چې د پاکستان له پولې سره پرتې دي او د دولت له واک سره لانجه روانه ده او عملي بدیل هم په کې محدود دی د کوکنارو کرکیله لا ډېره شوې ده.په دغو سویلي ولسوالیو کې د حکومت په وړاندې تاوتریخوالی د ۲۰۱۱-۱۲ کال د کر په موسم کې ډېر و او د ۲۰۱۲-۱۳ کال د کر پر وخت په کښتنیو ولسوالیو شینوارو او ښتي کوټ کې د مخالفینو ډېر شته والی لیدل کېده.

په اچین ولسوالۍ کې د مځکې په سر روانه لانجه او پر کوکنارو بندیز په ګډه د دې سبب شول چې کلیوال د حکومت د ورتګ په وړاندې مقاومت وکړي.اوس د افغان حکومت مخالفو عناصرو د مومندو په بره دره کې کلک ځای موندلی او داسې رپوټونه ډېر دي چې باغیان کښته سیمو ته راځي چې د کلیوالو ملاتړ خپل کړي. په بر اچین کې قبایلي مخورو چې د ۲۰۰۸ او ۲۰۱۰ کلونو ترمنځ یې د حکومت له لورې په اپیمو باندې د بندیز ملاتړ کړی و او د « شینوارو تړون» ترمخه یې د ۲۰۰۹ کال په فبروري کې د باغي ډلو د خوځښت پر محدودېدو رسمي سلا کړې وه اوس د حکومت له راشه درشې سره مقاومت کوي او ځینې وایي چې د ولایتي ادارې له ځایي مخالفانو سره یوه جوړ جاړي ته رسیدلي دي.

۱ تاماس بارفیلډ ، افغانستان: کلتوري او سیاسي تاریخ ( پرینستن او اکسفورډ: پرنستن پوهنتون مطبعه ۲۰۱۰ ) ، ۰۲-۱۲.
۲ بارفیلډ ، افغانستان: کلتوري او سیاسي تاریخ ۱۲۴.
۳ افغانستان: کلتوري او سیاسي تاریخ ،۱۲۲-۱۲۳

د خوګیاڼو په ولسوالۍ کې باغیان لا ډېر کښېنته درې ته وخوځېدل او نور یوازې د پیرخېلو او زاوې په برو درو چې له شیرزاد سره په پوله پرتې دي، پام نه کوي.له افغان دولت سره مقاومت او د خوګیاڼو د کلیوالو مخورو ترمنځ ژور توپیرونه د افغان حکومت هغه هڅې تر سیورې لاندې راولي چې غواړي له کلیوالو سره د ولسوالۍ له مرکز ورهاخوا هم معنا لرونکې اړیکې پیدا کړي. په ۲۰۱۲ کال کې د حکومت له خوا د فصلونو د ورانولو په وړاندې له تاوتریخوالي ډک غبرګون، ان په ډېرو په اسانه ورتلونکو سیمو لکه مېمله کې د دې ښکارندویي کوي چې د افغان حکومت مخالف عناصر څومره په دې ولسوالۍ کې ځای پر ځای دي.

د ولسوالۍ کښېنته سیمو کې لکه خېلګو کې د کوکنارو بیا کښت او دغه راز د ولسوالۍ مرکز ته نژدې سیمو کې یې کرل د کلیوالو د دې نظر ښکارندویي کوي چې دولت کمزوری دی. دغو سیمو کې د کوکنارو بیا کر کیله هغه ښکاره نخښه ده چې په ننګرهار کې دولت په شا تللی دی. والي ګل اغا شیرزی ډېر ګوښې شوی او هغو ولسوالیو ته نه شي تللی چې په ۲۰۰۷-۰۸ او ۲۰۰۸-۰۹ کال کې د فصل پر وخت ورغلی و او د اپیمو د تولید د مخنیوي اعلان یې په کې کړی و.د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو په ترځ کې د ولسمشرۍ، پارلماني او ولایتي ټاکنو نه وروسته ده ځینې ولایتي سیاسي مخورو او په کابل کې ځینې سیاسي ملاتړي له لاسه ورکړل. په ولایت کې دننه چې اوسني والي کومې سوداګریزې ګټې موندلي چې له خپل تګ سره یې نه شي لېږدولی نو د ده لیرې کېدل پخوانیو جهادي قومندانانو او د هغوی سیاسي وارثینو ته لا ګټور ښکاري ځکه چې دوی هم له ۲۰۱۴ کال وروسته افغانستان ته ځان چمتو کوي.

په سویلي ولسوالیو کې کلیوال په تمه دي چې د ۲۰۱۱-۱۲ کرهنیز موسم تاوانونه اوس پوره کړي اوس د شیرزاد، حصارک، چپرهار، خوګیاڼو، پچیر او اګام، ده بالا، نازیان او اچین ولسوالیو کې کوکنار لا ډېر کرل شوي بلکې له ۲۰۰۷ کال څخه راهیسته په لومړي ځل په راکښېنته سیمو کې هم په ډېرو هغو برخو کې کرل شوي چې په اسانۍ تګ ورته کېږي. خال خال کوکنار د کابل سیند د اوبو خور په سیمو کې هم د ولسوالیو په کښېنته برخو کې لکه د شینوارو د کانال ته څېرمه سیمو کې لیدل کېږي. که څه هم د حکومت له لورې د کونارو د اړولو په کمپاین کې د دغو ولسوالیو په هغو ځینو سیمو کې کروندې واړول شوې چې تګ ورته اسانه و خو ورسره یې داسې تاوتریخوالی هم وپاراوه چې له ډېرو کلونو راهیسته د فصلونو د ویجاړولو په ترځ کې په ننګرهار کې نه و لیدل شوی. دې تاوتریخوالي ته باید څوک د هغه کمپاین په یوه چوکاټ کې وګوري چې د دغو ولسوالیو په ځینو برنیو سیمو کې اصلاونه شو په ځانګړې ډول شیرزاد، خوګیاڼو او اچین کې چې د افغان حکومت مخالف عناصر په کې پیاوړي دي.

دې ته ورته ټولنیز حالت په مرکزي هلمند کې هم لیدل کېږي. د مرکزي هلمند هغه سیمې چې کانال اوبه ورکوي منظم او واحد قبایلي جوړښت او لوړ پوړي مخور نه لري چې د ننګرهار په کښېنته ولسوالیو کې د دولت تر واک لاندې سیمو کې موندل کېږي. د هلمند د کانال په سیمه کې بیا ګڼې قبایلي ډلې شته چې خپل کلیوال مخور لري چې ټول د سرچینو او اغیز دواړو په ژورې سیالۍ کې بوخت دي. د کانال په سیمو کې د ګډو قبایلي ډلو شته والی چې هم د دې سیمې اصلي خلک دي او هم ورته ناقل راغلي اصلاً باید دولت ته اسانه کړې وای چې کلیوال یې تابع کړي وای خو د افغانستان په سویل کې پرله پسې وسله والو شخړو د دولت توان کمزوری کړی چې له تاوتریخوالي کار واخلي.

په۱۹۸۰او ۱۹۹۰مو کلونو کې د مځکو د قبضه کولو له لارې د کانال سیمو ته د هغو کسانو راتګ چې د شوروي ځواکونو پر ضد یې په ولایت کې د مبارزې مشري کوله چې ډېر یې د هلمند د شمالي برخو د اغېزمنو قبایلو څخه دي، او د کرزي د اداري په لومړیو کلونو کې پر حکومتي څوکیو د دوی ګمارلو د ولایت سیاسي جغرافیه بدله کړه. لکه د ننګرهار په سویلي ولسوالیو کې په هلمند کې هم حکومت په ګڼو سره سیالو کسانو پورې محدود دی چې هر یو یې محدوده جغرافیایي ساحه لري. که اړتیا وي دغه کسان د ملاتړ لپاره مرکزي او ولایتي ادارې، بهرنیو ملکي او پوځي ځواکونو او باغیانو ته ګوري چې له خپلو سیالانو په خپل کلي او یا ګاونډي کلي کې برلاسي شي. تر ټولو ماهر کلیوال مشر له درو سرو ډلو سره اړیکې ساتي چې په دې ډول که هر څوک په سیمه کې برلاسي وي دوی په کې پیاړوی ملاتړ ولري. په دغه ډول یوه سیاسي او اقتصادي فضا کې پر اپیمو بندیز د دولت د واکمنو، کلیوالو مخورو او کلیوالي خلکو ترمنځ نازک حالت تر سیورې لاندې راولی.

د یوه قوي بدیل په نشتوالي کې د اپیمو پر تولید بندیز د کلیوالو په نظر له موقعې ګټه اخیستل دي او د کلیوالو مخورو ناکامي ده چې د ولس ګټې یې نه دې خوندي کړي. دا د هغو لوی تاوان دی چې د مرستو کافي سرچینې نه لري او بزګران اړباسي چې داسې تګلارې کاپي کړي چې هم یې پر راتلونکو عوایدو اغیز کوي او هم یې له فزیکي خطر سره مخامخوي. کلیوالو مخورو ته د پرمختیایي مرستې سپارلو د دولت هغه هڅې لا اغېزمنې کړي چې غواړي له ولس سره تماس وموميي او په دې توګه په ځایي مشرتابه کې بدلون راولي.

چې له زور سره مخامخ شي عموما د بهرني پوځي ځواک د ګواښ په یادولو کلیوالو ښوولې چې په دې سیمو کې د لنډوخت لپاره د کوکنارو له کرکیلې لاس اخلي. خو داسې شواهد ډېر دي چې بزګران او نور سیال کلیوال مخور به د واک په نورو ممکنه بڼو پانګونه کوي چې د واک د تلې په اوښتو او د اوسنیو دولتي ځیرو په بدلون او چې د هغوی بهرني ملاتړي چې د تاوتریخوالي د کارولو لارې نورې ونه لري نو دوی به پرې بیرته د کوکنارو کرکیلې ته مخه کوي. په مرکزي هلمند کې بندیز ته غبرګون تر ډېره سملاسي و چې ورسره ډېر بزګران د نهر بغرا شمال کې دښتو ته واوښتل چې طالبان په کې برلاسي وو. د ننګرهار په سویلي ولسوالیو کې د پیل هغه زړه نا زړه والی چې له باغي ډلو سره بزګران ښکېل شي هغه وخت بدل شو چې د اپیمو بندیز او پر کلیوالو باندې ورپسې چارو ډېر اغېز وکړ. بالاخره هغه شرایط چې په دواړو ننګرهار او هلمند کې د کوکنارو په کمه کچه د کرکیلې سبب شوي و نور پر ځای نه و.

په ځانګړې توګه به د افغانستان له کلیوالو سیمو د لویدیځ پوځ له وتلو سره بنسټیز اوښتون لیدل کیږي. افغان حکومت ښایي په هغو کنښته درو کې بریالی شي چې ښېرازه مځکې لري او له ډېره وخته پرې دولت لاسبری و او په تېره لسیزه کې دغلته خلکو په عامه چارو کې ښه والی لیدلی خو په هغو سیمو کې به د کوکنارو کر ډېر شي چې د دولت پر واک په کې سیالی لا ډېرې دي. په دغو سیمو کې، دولتي ځیرې، د افغان امنیتي پرسونل په شمول ښایي له ځایي بزګرانو او کلیوالو مخورو سره د کوکنارو د کرکیلې په باب یوه جوړجاړې ته ورسیږي او هغه داسې چې د اپیمو تولید د لویدیځ د پیسو د کمښت په حالت کې د کرایې په توګه لوبېدلی شي او د پرله پسې بندیز ساتل به دا خطر ولري چې کلیوال خلک پردي کړي اوله باغیانو سره مرسته وکړي.

دا امکان ډیر دی چې د ۲۰۱۲-۱۳ کرهنیز موسم د کچې غوندې به د کوکنارو کرکیله زیاته وي په ځانګړې توګه چې د **۲۰۱۴** کال په دسمبر کې بهرني جنګي عملیات په هلمند او ننګرهار دواړو کې پای ته رسیږي. خو څه چې څرګند نه دي هغه دا دی چې کابل او نړیواله ټولنه به څه ځواب ورته ولري. په ځانګړې توګه اوس دا خبره لا ډېره سپینه نه ده چې نړیواله ټولنه دم ګړی د مخدره توکو پر ضد موضوع کې کوم دریځ لري. دا واضح ده چې د مخدره توکو پر ضد جلا ګڼ فعالیتونه او هدفونه بې ګټې ثابت شوي دي. د کالنۍ اندازې پر څرنګوالي غور، لکه د کروندې، ویجاړولو او له «کوکنارو پاکو» ولایتونو شمېر، یو څنډ شوی دی او ډېر ځله یې د هغې لا دقیقې او اوږدمهالې پرمختیایي چارې مخه ډب کړې چې د افغانستان د دولت جوړولو د پراخو هلو ځلو په چوکاټ کې د کوکنارو د کرکیلې بیلا بیل دلایل معلوموي. سربېره پر دې لکه دې رپوټ چې وښووله د افغانستان په کلیوالو سیمو کې ګڼو واقعیتونو او له بیلا بیلو جغرافیایي او سیاسي سیمو سره د دولت د تړاو تاریخ ته پام نه کول په ځینو سیمو کې د کوکنارو د کرکیلې د کمښت او د ثبات د هدف موندلو په برخه کې منفي ثابت شوی دی.

خو اوس داسې ښکاري چې په پلازمېنه کې پالیسي جوړونکي لا ډېر تر فشار لاندې دي او داسې احساس شته چې پر سیاستوال او د پرمختیایي چارو مسوولین په دې باور دي چې دوی په افغانستان کې د فعالیتونو پروګرامونه د مخدره توکو اقتصاد ته له پام کولو پرته هم پر مخ بېولی شي. خو دا ناشونې ښکاري چې د سارې په توګه یو پروګرام د هلمند د سیند په غاړه کرهنیزه مځکه ډېره کړي او په سیمه کې خپل پرمختیایي هدفونه ترلاسه کړي او یا له افغان دولت سره ټولنیز تړون پیاړوی کړي چې په کې ډیره نوې مځکه د ناقانونه مخدره توکو د سوداګرۍ لپاره وکرل شي.

دغه راز داسې سیاسي تګلاره چې د نغدو پیسو حضور له پامه غورځوي چې دم ګړۍ د کورني خالص تولید په ملي کچه **۱۵** سلنه دی[4]، او په هغو ولایتونو کې لا ډېر دی چې د اپیمو تولید په کې متمرکزه دی او فکر کېږي چې د پوځي او پرمختیایي مرستو له کمېدو سره به لا ډیر شي نو په داسې حالت کې دغه ډول تګلاره معقوله نه ده په تېره بیا چې د راتلونکو ټاکنو منډو تړړو ته د مخدره توکو د پیسو کارولو امکان شته او په راتلونکې کې د سیمې د سیاسي جوړجاړې جوړونکی دی. دا هم لا جوته نه ده چې لویدیځ حکومتونه به داسې افغانستان ته په راتلونکي کې د پانګونې لپاره په کور دننه څرنګه ملاتړ مومي چې کوکنار یې تر بل هر کله اوس د کرهنې په ډېره مځکه کی کرل شوي او په رسنیو کې د «مخدره توکو دولت» په څېر ټاپې لا ډېرې ورته ترغوږ کېږي. شواهدو ښوولې چې که د مخدره توکو پر ضد او په تېره بیا پر اپیمو بندیز په افغانستان کې لور د لورده وشي دا ثابته شوې چې تېروتنه ده. خو که د مخدره توکو موضوع په دې دلیل په بشپړه توګه هېره شي چې پېچلې ، خوځنده او ګرانه ده نو دا به هم هغومره تنګ نظره او ممکن هغومره بې ګټې وي.

۴ UNODC/MCN، "افغانستان کې د کوکنارو سروې" (کابل: UNODC/MCN دسمبر ۲۰۱۱).

۱۲ کاله
باکیفیته څېړنه

څېړنې د ښه
افغانستان
لپاره
AREU

**افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره**
دحاجي یعقوب له څلور لارې څخه د شهید د
څلورلارې په لور، کین اړخ ته دریمه کوڅه، ۱۴۴
کور، نوی ښار، کابل، افغانستان
تیلفون: ۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹(۰)۹۳+
برېښنالیک:publications@areu.org.af
ویب پاڼه:www.areu.org.af

ټولې خپرونې په دغه پاڼه کې د راښکته
کولو لپاره www.areu.org.af لاس ته
راوړې شي.

په کابل کې ددغه ادارې په دفتر کې چاپ
شوې کاپیانې هم موجودې دي.